د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت
د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۲۵/جمادی الثاني /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۷/ جدی/۱۴۰۳هـ، ش

# په جَمعې سره د لمانځه د اداء کولو فضیلت او ضرورت

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله الملك العلاّم، ذي الجلال والإكرام، الْمُنعِم المتفضِّل على الدّوام، أحمده وهو أهل الثناء والمجد والمنة والإحسان، وأُصلّي على نبيه ومصطفاه، صاحب الحوض المورود، والمقام المحمود، وعلى آله وأصحابه الذين نصر الله بهم الدِّين، وأعلى بهم الملّة، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى: { وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ} البقرة: (٤٣)

وعن أَبِيَ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« صَلاَةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلَى صَلاَتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا » صحیح البخاري ت (۲/ ۵۸)

**درنو حاضرینو او اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

الله جل جلاله په مسلمانانو ډیر لوی احسان کړی دی چې د مسلمانانو لپاره یی ځانګړي وختونه ټاکلي دي چې دوی په کې را ټولیږي او په اجتماعي توګه دالله جل جلاله عبادت اداء کوي چې د هغې له جملې څخه په شپه او ورځ کې پنځه وختونه دي چې دوی په کې په جماعت سره فرضي لمونځونه اداء کوي، بل د جُمعې ورځ ده چې مسلمانان په کې په اجتماعي توګه د جُمعې لمونځ اداء کوي، بله کلنۍ اجتماع ده چې په کال کې دوه ځله مسلمانان په کې راټولیږي او په اجتماعي توګه دالله تعالی عبادت کوي چې هغه د اخترونو لمونځونه دي او په دې کې ډیرې زیاتې روحي، اجتماعي، فردي ګټې پرتې دي.

د جَمعې لمونځ کول دومره ضروري دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ژوندانه په ټولو حالتونو سفر او اقامت، روغتیا او بیمارۍ کې جماعت لمونځ اداء کړی دی او صحابه کرامو هم ډیر حرص درلود ،ترڅو لمونځونه په جومات کې په جَمعې سره اداء کړي، ځکه دوی د جَمعې د لمانځه په ثواب او ګټو پوهیدل او په جَمعې سره یې فرضي لمونځ ضروري ګڼلو، نو پر مونږ هم لازم دي چې خپل پنځه وخته لمونځونه په جَمعې سره اداء کړو، ترڅو د لوی اجر مستحق وګرځو او د منافقانو له عادتونو څخه ځانونه وژغورو.

په جَمعې سره د لمانځه د اداء کولو د فضیلت او ضرورت په اړه ګڼ شمیر احادیث راغلي دي.

د جَمعې سره د لمانځه د ترک کولو په اړه په قرآن کريم کې سخت وعيد راغلی دی . الله جل جلاله فرمايلي دي: {خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ}.القلم: (۴۳)

ترجمه:- حال دا چې ذليلې ښکته به وي له شرمه) سترګې د دوی را ګېر کړي به وي دوی ذلت ،خواری او بېشکه وو دوی په( دنيا کې) چې بلل کېدل دوی طرف د سجدې ته او دوی به وو روغ رمټ (نو سجده به يې نه کوله).

توضيح:- الله تعالى فرمايي چې دوی ته به ذلت څکه ورکول کيده چې دوی به د اذان له لارې لمانځه ته رابلل کيدل ؛ خو دوی به ددغې بلنې اجابت نه کولو او مسجدته به د جَمعې لپاره نه راتلل، په داسې حال کې چې دوی به روغ رمټ ؤ او مريضان به نه ؤ .

مشهور مفسر امام سعيد بن جبير مفسر ددې آيت په معنا کې وايي:(كانوا يسمعون النداء للصلاة وحي على الفلاح فلا يجيبون) المحرر الوجيز ـ (٥/ ٣٢٦) ترجمه: دوی به د لمانځه اذان اوريدلو او حي على الفلاح به يې اوريدله ؛ خو د هغې اجابت به يې نه کولو.

امام كعب الاحبار رح وايي:(والله ما نزلت هذه الآية إلا في الذين يتخلفون عن الجماعات). تفسير القرطبي (١٨/ ٢٥١)

ترجمه:- قسم په الله چې دا آيت نه دی نازل شوی ؛ مګر د هغو خلکو په حق کې نازل شوی دی چې تخلف او وروسته والی کوي د جماعت څخه.يعنې جماعت ته نه حاضريږي.

سعيد بن المسيب رح وايي:(كَانُوا يَسْمَعُونَ " حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ " فَلَا يُجِيبُونَ وَهُمْ أَصِحَّاءُ سَالِمُونَ).

ترجمه:- دوی به اوريدلو (حی على الفلاح) خو د هغې اجابت به يې نه کولو په داسې حال چې هغوی به روغ رمټ ؤ.

ابن حجر مكي رح وايي : نو ددې څخه زيات او سخت وعيد به نور چيرې وي د هغه چا لپاره چې جماعت پرته له عذره ترک کوي. (وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَمَّنْ يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ وَلَا يُصَلِّي فِي الْجَمَاعَةِ وَلَا يُجَمِّعُ؟ فَقَالَ: إنْ مَاتَ هَذَا فَهُوَ فِي النَّارِ). الزواجر عن اقتراف الكبائر (١/ ٢٣٨)

ترجمه:- او دعبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه د هغه چا په باره کې چې د ورځې روژه نيسي- او د شپې قيام الليل کوي ؛ خو په جماعت سره لمونځ نه کوي او جمعې ته نه حاضريږي؟ عبدالله بن عباس رضي الله وفرمايل: که چيرې دا کس مړ شي ؛ نو په اور (جهنم) کې به وي.

همدارنګه الله تعالى په جَمعې سره د لمانځه داداء کولو په اړه فرمايلي دي: { وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ} البقرة: (٤٣)

ترجمه:- او سم قائموئ( په ښه ترتيب سره ادا کوئ) لمونځ ! او ورکوئ زکات ! او رکوع وکړئ ! سره له رکوع کوونکو (لمونځ کوونکو مسلمانانو).

**وجه داستدلال:** د[واركعوا مع الراكعين] په تفسير کې امام ابو الليث سمرقندي ليکي: أي صلوا مع المصلين يعني مع أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم في الجماعات). بحر العلوم (١/ ٧٥)

يعنې لمونځ وکړئ د لمونځ کوونکو سره يعنې د محمد صلى الله عليه وسلم د اصحابو سره په جَمعې او جماعاتو سره.

امام قرطبي رح ليکي: (مع الراكعين) " مع " تقتضي المعية والجمعية ولهذا قال جماعة من أهل التأويل بالقرآن: إن الامر بالصلاة أولا لم يقتض شهود الجماعة فأمرهم بقوله " مع " شهود الجماعة. تفسير القرطبي (١/ ٣٤٨)

ترجمه:- د (مع) کلمه تقاضا د ملګرتيا او جمع والي کوي ددې وجې نه د قرآن کريم ځينې مفسرين وايي: د آيت په شروع کې (اقيموا الصلاة) دجَمعې ته دحاضريدو تقاضا نه کوله ؛ نو په (مع) سره امر ورته وکړ چې جَمعې ته حاضر شئ.

ددې آيت څخه په استدلال د حنفي مذهب عام مشائخ وايي چې په جَمعې سره لمونځ کول واجب دي.

علامه ابن نجيم رحمه الله ليکي:(وَالرَّاجِحُ عِنْدَ أَهْلِ الْمَذْهَبِ الْوُجُوبُ).البحر الرائق (١/ ٣٦٥)

ترجمه:- راجح د مذهب د خاوندانو په نزد د(جماعت ) وجوب دی.علامه ابن عابدين ليکي:(صلاة الجماعة واجبة على الراجح في المذهب أو سنة مؤكدة في حكم الواجب كما في البحر، وصرحوا بفسق تاركها وتعزيره، وأنه يأثم). حاشية رد المحتار (١/ ٤٩٣)

ترجمه:- په جماعت سره لمونځ کول واجب دي په راجح قول سره په مذهب کې او يا مؤکد سنت دي چې د واجبو حکم لري لکه چې په البحر کې ذکر دي او مجتهدينو د جماعت دتارک په فسق او تعزير باندې تصريح کړی ده او تارک دجماعت ګناهګاريږي (په ترک د جماعت سره).فقهاوو ليکلي دي چې په جماعت سره لمونځ څکه واجب دی، چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم په جماعت باندې مواظبت کړی دی او په احاديثو کې د جماعت دتارک په اړه سخت وعيد ذکر شوي دی او د فقهاوو په نزد د قصداً جماعت ترک کوونکی فاسق دی او مستحق د تعزير دی او شهادت يې نه قبليږي.انظر بدائع الصنائع (١/ ١٥٥)، رد المحتار (١/ ٤٩٣)

په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلٌ أَعْمَى فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ لَيْسَ لِى قَائِدٌ يَقُودُنِى إِلَى الْمَسْجِدِ. فَسَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّىَ فِى بَيْتِهِ فَرَخَّصَ لَهُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ « هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلاَةِ ». فَقَالَ نَعَمْ. قَالَ « فَأَجِبْ ». صحيح مسلم (٢/ ١٢٤)

ژباړه:- له أبی هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې يو ړوند سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی وه يې ويل : ای د الله رسوله! بيشکه نشته زما څوک چې مسجد ته مې بوزي او له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې سوال وکړ تر څو هغه ته رخصت ورکړي چې په کور کې لمونځ وکړي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته اجازه ورکړه ،کله چې هغه سړی روان شو نبي عليه السلام ورته آواز وکړ (يا يې راوغوښتلو) او ورته يې وفرمايل : آيا ته دلمانځه آذان اورې ؟ هغه سړي وويل : هو! نبي عليه السلام ورته وفرمايل: نو آذان ته ځواب ورکوه ( لمونځ په جَمع ادا کړه ) .

په يو بل حديث شريف کې راځي نبي عليه السلام فرمايي چې کوم کسان په جماعت سره لمونځ نه کوي او په کورونو کې لمونځ کوي زړه مې غواړي چې پر هغوی باندې کورونه ور وسيزم چې دا د جَمعې سره د لمانځه ترک کولو سخته سزا ده .

په حديث شريف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال : «وَالَّذِي نَفْسِي بِيدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيحْطَبَ، ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلاَةِ فَيؤَذَّنَ لَهَا، ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيؤُمَّ النَّاسَ، ثُمَّ أُخَالِفَ الى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عليهِمْ بُيوتَهُمْ». الموطأ للامام مالك(١/ ١٢٩)، صحيح البخاري ت (٢/ ٥٦)

ژباړه :- له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي بيشکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، قصد مې وکړ چې د يوې اندازې لرګيو په راټولولو امر وکړم، ترڅو لرګي را ټول شي، بيا د لمانځه په اداء کولو امر وکړم، نو دهغه لمانځه لپاره آذان وويل شي او بيا يوه سړي ته امر وکړم چې د خلکو لپاره امامت وکړي، نو هغه امامت وکړي او بيا وګرځم هغو خلکو ته( چې نه حاضريږي لمونځ ته) او وسيزم په دوی باندې ددوی کورونه.

په جماعت سره د لمانځه اداء کول سراسر هدايت دی او په جماعت سره دلمانځه ترک کول د منافقانو خصلت دی او د ګمراهۍ سبب دی. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللَّهَ غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلَى هَؤُلاَءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ فَإِنَّ اللَّهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ -صلى الله عليه وسلم- سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّى هَذَا الْمُتَخَلِّفُ فِى بَيْتِهِ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هَذِهِ الْمَسَاجِدِ إِلاَّ كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً وَيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلاَّ مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِى الصَّفِّ». صحيح مسلم (٢/ ١٢٤)

ترجمه :- حضرت عبدالله بن مسعود رض فرمایی : که څوک دا غواړي چې سبا د قیامت په ورځ د الله تعالی په دربار کې مسلمان حاضر شی ، نو هغه دې ددغو لمونځونه محافظت (اداءکول) په داسې ځای کې وکړي چې هلته اذان کیږی ( یعنی په مسجد کې ) ځکه چې الله تعالی ستاسې د نبی علیه الصلاة السلام لپاره داسې سنتونه جاري کړي دي چې هغه سراسر هدایت دی د هغو څخه دا د جماعت لمونځ هم دی که چیرې تاسو پخپلو کورونو کې لمونځونه کوی لکه څرنګه چې دا متخلف سړی یې کوي؛ نو تاسو به پرېږدی د خپل نبي سنت (هدایت) او که چیرې تاسې پرېښودل د خپل نبي سنت( لاربښوونې) ؛ نو تاسو به ګمراه شئ. او نشته داسې سړی چې اودس وکړي ښه اودس او بیا ددغو مسجدونو څخه یو مسجد ته روان شي؛ مګر داچې لیکي الله تعالی دده لپاره په هر قدم باندې چې هغه یې اخلي یوه نیکي او لوړوي یې په دغه قدم اخیستلو باندې یوه درجه او ښې ورته په دغه قدم باندې یوه بدي. او موږ به لیدل او نه به وروسته کیدلو له جماعت څخه مګر منافق ښکاره منافق او بیشکه یو سړی به راوستل کیده په داسې حال کې چې تکیه به یې کړی وه په دوه کسانو باندې تر دې پورې چې وبه درول شو په صف کې.

**توضیح:** په دې حدیث شریف کې واضحه شوه چې د جماعت څخه وروسته والی د پیغمبر علیه السلام په زمانه کې د عقیدوي منافقت ښکاره علامه وه او نن صبا د جماعت پرېښودل د عملي نفاق نښه ده او څوک چې په جماعت سره لمونځ کوي له عملي نفاق څخه خلاص دی. الإفصاح عن معاني الصحاح (٢/ ١٢٥)

همدارنګه صحابه کرام رضي الله عنهم د جماعت دومره زیات پابند وو که به د ناروغۍ په حالت کې مسجد ته تللای شو، نو هم به تلل . د دوو کسانو په مرسته به یې په جماعت کې اشتراک کولو ؛ خو د جماعت لمونځ به یې نه ترک کولو.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرض الوفات په وخت کې همداراز صورت پیښ شو، د مرض د شدت په وجه څو واره بې هوښه شو او څو واره یې د اوداسه اوبه طلب کړی آخیر یې اودس وکړ او پرحضرت عباس رضي الله عنه او بل صحابي باندې په تکیه کولو سره مسجد ته حاضر شو په داسې حال کې چې پښې مبارکې یې پر ځمکه ښی نه شوی لګولی او چې جماعت یې نشو ورکولای حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته یې امر وکړ چې جماعت ورکړي.

ددې واقعاتو څخه په جَمعې سره د لمانځه داداء کولو فضیلت او ضرورت په ډاګه معلومیږي.

په یو بل حدیث کې راځي چې چا په جماعت سره څلویښت ورځې د تکبیر اولی په نیولو سره لمونځ وکړ ، الله تعالی به ورته د جهنم له اور او نفاق څخه خلاصون ورکړي.عن أَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى للهِ أَربَعينَ يَوماً في جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبيرَةَ الأُوْلَى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ». سنن الترمذي (٢/ ٧)

ژباړه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې څلویښت ورځې خاص دالله تعالی د رضا لپاره په جماعت سره لمونځ وکړ چې تکبیر اُولی یې ونیوله، نو هغه ته به دوه برائتونه (خلاصی او نجات ) ولیکل شي یو د دوزخ د اور څخه او بل له نفاق څخه .

د سهار لمونځ په جَمعې سره اداء کول دومره فضیلت لري ، که چیرې خلک له دغه فضیلت څخه خبر وای ، نو که په ولاړه نشو ورتلای ، نو په خاپوړو به ورته حاضر شوي وای.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: « إِنَّ أَثْقَلَ صَلاَةٍ عَلَى الْمُنَافِقِينَ صَلاَةُ الْعِشَاءِ وَصَلاَةُ الْفَجْرِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا »صحيح مسلم (٢/ ١٢٣)

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل بیشکه ډیر سخت لمونځ په منافقینو باندې هغه د ماخوستن لمونځ دی او بل د سهار لمونځ دی .که چیرې دوی پوهیدلی په هغه اجر باندې چې په دې دوه وخته جماعت کې دی ، نو خامخا به ورته راغلي ؤ، اګر که په پښو را ښکلو سره وی.

**توضیح:** د ماخوستن او سهار جمعې کې زيات ثواب دی ؛ ځکه چې په زيات مشقت سره اداء کيږي . د ماخوستن وخت د خوب او استراحت وخت وي او په لاره کې تياره هم وي او د سهار د جماعت پر وخت خلک ويده وي او تياره هم وي او په وجود کې د خوب سستي موجوده وي او د نبي عليه السلام د وخت منافقين به په ماخوستن کې په خبرو او مجلسونو کې مشغول ؤ او سهار به ويده ؤ؛ نو دغه دوه وخته جماعتونو ته حاضريدل ورته سخت ؤ.
نو څوک چې د سهار لمونځ په جماعت سره کوي له يوې خوا زيات اجر کسب کوي او له بل پلوه د منافقينو له عاداتو څخه خلاصی مومي.
د جَمعې سره لمونځ اداء کول نسبت يواځې لمونځ ته پنځه ويشت درجې فضيلت لري. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« صَلَاةُ الْجَمِيعِ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» صحيح البخاري ت (١/ ٤٨٧)
ژباړه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له نبي عليه السلام څخه نقلوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: دجَمعی سره لمونځ کول زيات دی (د هغه) د لمانځه څخه په کور کې او يا (د هغه لمونځ کولو څخه ) په بازار کې پنځه ويشت درجې.
په يو بل روايت کې راځي چې په جماعت سره لمونځ د يواځې لمونځ څخه اووه ويشت درجې زيات فضيلت لري.په حديث شريف کې راځي: عن ابنِ عمَر رضي اللَّه عنهما أَنَّ رسولَ اللَّه ﷺ قَالَ :صَلاةُ الجَمَاعَةِ أَفضَلُ مِنْ صَلاةِ الفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ درَجَةً متفقٌ عليه .
ژباړه:- د ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی :بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د جَمعې لمونځ د يواځې لمونځ نه(په ثواب کې) اوويشت درجې زيات وي.
**توضیح:** کله چې انسان لمونځ کوي او د ثواب په نيت يی کوی نو په کار دی چې په کور کې يی ونکړي او مسجد ته ولاړ شي او په جماعت سره يی اداء کړي او لوی ثوابونه له الله تعالی څخه ترلاسه کړي. دا به څوک وي چې په يو ځای کې ورته په يو کار ٢٧ روپۍ ورکول کيږي او په بل ځای کې ورته په همغه کار يوه روپۍ ورکول کيږي . که څوک عقلمند وي خو د هغه ځای کار کوي چې په کار ورته (٢٧) روپۍ ورکول کيږي خو متأسفانه زمونږ خلک دومره لويه ګټه او نفع پريږدي چې دا د ډيرې بې پروايی او کم توجهۍ علامه ده چې ددين ګټه ورته ګټه نه ښکاري. د دنيا تجارت چې په هغه کې يوه دوې روپۍ پيدا کيږی ټوله ورځ په اخته يو د آخرت تجارت چې په هغه کې اوويشت درجې نفع ده زمونږ له توانه نه کيږي. په جماعت سره لمونځ د دوکان نقصان بلل کيږي د دوکان بندول ورته تاوان ښکاري او يواځې په دوکان کې لمونځ کوي، ليکن دکومو کسانو په زړونو کې چې د الله تعالی عظمت وي د الله تعالی پر وعدو باندې يې يقين وې او د اجر او ثواب قيمت يی په زړه کې وي، هغوی ته دا بې ځايه عذرونه هيڅ ارزښت نلري او د داسی کسانو تعريف الله تعالی په قرآن کې کړی دی : { رِجَالٌ لا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالأَبْصَارُ (٣٧) لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ}النور: (٣٨)
ترجمه:- (داسې) سړي چې نه غافلوي دوی سوداګري او نه بيع پيرودل له ذکره ياده د الله، او له سم قائمولو اداء کولو د لمانځه او له ورکولو د زکات

ويريږي (دوی سره له ذکره او طاعته له عذابه) د هغې ورځې چې اوړي رااوړي، مضطرب به وي په هغې ورځې کې زړونه او سترګي (له ډيرې وېرې). لپاره د دې چې جزا ورکړي دوی ته الله ډېره غوره جزا د هغو عملونو چې کړي دي دوی او زيات به کړي (الله) دوی ته له فضله احسانه ،رحمته خپل او الله رزق روزي ورکوي هر چاته چې اراده و فرمايي (د رزق ورکولو د هغو) بې له حسابه (وافره پريمانه) څوک چې مسجد ته لاړ شي او هلته د جماعت انتظار کوي؛ نو دا داسې دی لکه چې په لمانځه چې ولاړ وي او ملائکې ورته دالله تعالی څخه دعاء غواړي.

په حديث شريف کې راځي:عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : « صَلاَةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ على صَلاَتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خُمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا، وَذَلِکَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ خَرَجَ الى الْمَسْجِدِ لاَ يخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلاَةُ، لَمْ يخْطُ خَطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ، وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ، فَإِذَا صلى لَمْ تَزَلِ الْمَلاَئِکَةُ تُصَلِّي عليهِ مَا دَامَ فِي مُصَلاَّهُ : اللَّهُمَّ صَلِّ عليهِ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ، وَلاَ يزَالُ أَحَدُکُمْ فِي صَلاَةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلاَةَ» متفق عليه

ژباړه:- له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: د سړي لمونځ په جماعت سره د يوازې لمانځه څخه په کور کې يا بازار کې پنځه ويشت درجې غوره والى لري؛ خو دا په هغه صورت کې چې اودس په ډېره ښه توګه وکړي او بيا مسجد ته لاړ شي، په داسې حال کې چې له لمانځه پرته بل شي له کوره نه وي ايستلى، نو قدم نه اوچتوي مګر دا چې په هر قدم يې يوه درجه لوړيږي او يوه ګناه يې پرې کميږي او کله چې لمونځ کوي پرښتې ورته د ښېښې دعا غواړي تر څو چې د لمانځه ا په ځای کې وي او وايي يا الله ده ته ښښنه وکړه او رحم پرې وکړه او په لمانځه کې وي يو ستاسو نه ترڅو چې د لمانځه لپاره منتظر اوسي .

د ماخوستن او د سهار لمونځ په جماعت سره اداء کول علاوه ددينه چې فرض يې په کامل ډول اداء کړل دا داسې ده لکه ده چې د تهجدو لمونځ هم کړی وي. په يو حديث شريف کې راځي: عن عُثْمَان بْن عَفَّانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ ». صحيح مسلم (٢/ ١٢٥)

ژباړه:- له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ماد رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل: څوک چې د ماسختن لمونځ په جَمعې سره ادا کړي دا داسې ده لکه نيمه شپه يې چې لمونځونه د(تهجد) کړي وي او څوک چې د سهار لمونځ په جَمعې سره اداءکړي دا داسې ده لکه چې ده چې ټوله شپه لمونځونه(دتهجد) کړي وي.

همداراز څوک چې مسجد ته د جماعت د نيولو په اراده لاړ شي او چې ورشي جماعت ور څخه شوي وي ، ده ته د جماعت په اندازه ثواب ورکول کيږي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا أَعْطَاهُ اللَّهُ جَلَّ وَعَزَّ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلاَّهَا وَحَضَرَهَا لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أَجْرِهِمْ شَيْئًا»أبوداود(١/ ٢٢٢)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل څوک چې اودس وکړي ښه اودس بيا مسجد ته د لمانځه لپاره لاړ شي؛ هلته چې ورسيږي خلکو لمونځ کړی وي، (جماعت تير شوی وي) نو الله تعالى ده ته هم د جماعت د لمانځه ثواب ورکوي د هغه چا په شان ثواب ورکول کيږي چې جماعت ته حاضر شوی وي؛ بې له دې چې نه کمه وي داکار ددغو خلکو له ثواب څخه څه شی.

د الله تعالى څومره لوی احسان او انعام دی چې يوازې دجماعت د نيولو پر کوشش باندې د جماعت د لمانځه ثواب ورکوي.

کوم کسان چې په تيارو کې جَمعې ته ځي د هغوی لپاره به د قيامت په ورځ کامله روښنايي وي.

په حديث شريف کې راځي: عن بُريدة، عن النبيّ - صلى الله عليه وسلم - قال: «بَشِّرِ المَشائينَ في الظُّلَمِ إلى المساجدِ بالنورِ التَّام يومَ القيامة» سنن أبي داود (١/ ٤٢١)

ژباړه:- دحضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه له نبي عليه السلام څخه حديث نقلوي چې نبي عليه السلام داسې وفرمايل: زيری ورکړه تلونکو ته په تيارو کې مسجدونو ته په روښنايې کاملې سره د قيامت په ورځ.

مسجد ته د زياتو قدمونو اجر به هم زيات وي.

په یو روایت کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ، فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا إِلَى قُرْبِ الْمَسْجِدِ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُمْ: «إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ»، قَالُوا: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ أَرَدْنَا ذَلِكَ، فَقَالَ: «يَا بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ، دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ». صحيح مسلم (١/ ٤٦٢)

ژباړه:- جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايې: د مسجد نبوي شاوخوا ځایونه خالي شول؛ نو بنوسلمه قبیلې وغوښتل چې مسجد نبوي ته نژدې خپل کورونه را نقل کړي ، نبي علیه السلام ته دا خبره ورسیده ، نبی علیه الصلاة والسلام ورته وفرمايل ما ته دا خبره رارسیدلې ده چې تاسې غواړې چې خپل کورونه مسجد نبوي خوا ته رانقل کړی؟ هغوی وویل: بلې یارسول الله ! صلی الله علیه وسلم. بیشکه مونږ داسې اراده کړی ده. نبي علیه السلام ورته وفرمايل: ای بنو سلمه! په خپلو کورنو کې اوسیږئ ستاسو آثار (د پښو قدمونه ) به لیکل کیږي . په خپلو ځایونو کې اوسیږئ ستاسو آثار (د پښو قدمونه ) به لیکل کیږي . یعنې څومره چې ستاسو ځایونه لری وي او مسجد ته زیات قدمونه اخلې د جماعت لپاره تاسو ته به هم زیات اجر لیکل کیږي.

په جَمعې سره د لمانځه داداء کولو کې دا فائده ده چې د مقتدیان دامام ولا الضالین څخه وروسته آمین وایې او ملائکې هم آمین وایې ؛ نو د چا امین چې د ملائکو له آمین سره برابر شو ؛ گناهونه به ورته وبښل شي.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا أَمَّنَ القَارِئُ فَأَمِّنُوا، فَإِنَّ المَلاَئِكَةَ تُؤَمِّنُ، فَمَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ المَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» صحيح البخاري (٨/ ٨٥)

ژباړه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه حدیث نقلوي چې نبي علیه السلام وفرمايل: کله چې ولا الضالین قاري ووایي نو تاسې آمین ووایئ؛ بیشکه ملائکې هم آمین وایې ، نو پس د چا آمین ویل چې د ملائکو د آمین ویلو سره برابر شو ؛ وبه ښښل شي ورته هغه چې وړاندې کړي وو د گناهونه څخه.

حضرت محمدبن سماعة چې یو بزرگ عالم او د امام ابویوسف او امام محمد شاگرد ؤ ؛ د١٠٣ یوسلو دریو کلونو په عمر وفات شو هغه وایې چې زما څخه په څلویښتو کلونو کې یو وار تکبیر اولی تیر شوی دی هغه په هغه وخت کې چې زما مور وفات شوی وه او زه په هغه کار باندې مشغول وم چې تکبیر اولی راڅخه تیر شو . او هغه وایې چې زما څخه یو وار د جماعت لمونځ پاتی شو؛ نو ما په دې وجه چې هغه فوت شوي لمونځ پنځوس وارې وکړ؛ ترڅو هغه عذر پوره شي ، نو خوب می ولید چې یو سړي راته وویل: ای محمده ! پنځوس ځله خو دې لمونځ وکړ، مگر د ملائکو آمین څه شو ؟ کذافی فوائد بهجة .

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**